خانقاہِ امدادیہ اشرفیہ
گلشنِ اقبال بلاک ۲ کراچی

فهرست

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلاَمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى اَمَّابَعْدُ

فَاَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوْءُ عَمَلِهِ فَرَاٰهُ حَسَنًا (سورة فاطر،آية:۸)

وَقَالَ تَعَالٰى قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ (سورة نور،آية:۳۰)

نن دسنت مطابق یوه نکاح تړل کیږی، زه کوښښ کوم چی دلمانځه ترمخه نکاح وتړل سی لاکن که مضمون ختمول مشکل سو نو بیابه انشاء اللّٰه دجمعې دلمانځه وروسته نکاح وتړل سی او دنکاح په باره کی به هم یوڅو خبری وسی بلکه نن زیاتره دنکاح په باره کی مسئلې بیانیږی.

تر ټولو بابرکته نکاح کومه یوه ده؟

رسول اللّٰهﷺ فرمائی

﴿اِنَّ اَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً اَيْسَرُهٗ مَئُوْنَةً﴾

(مشکوٰة المصابیح،کتاب النکاح)

تر ټولو بابرکته نکاح هغه نکاح ده په کومه نکاح کی چی خرڅ کم وی او ساده وی، تر بې ځایه پیسو مصرفولو ښه دی چی هغه پیسې وخپلی لور ته ورکړې، خپل زوم ته ئې ورکړې، په مسجد کی سترنجی اوارکه، دیو طالب خرڅ پرځان کړه غرض دخپل پیر سره صلاح وکړه په یوصحیح مصرف کې ولګوه.

دولیمې دعوت کوم چی سنت دی(د واده شپه دتیرولو وروسته په خپلو قریبانو، دوستانو او مسکینانو باندی ډوډی خوړولو ته ولیمه ویل کیږی)ولیمه دهلك دخوا ده، دچا کورته چی ښځه راځی مګر نن سبا سرچپه معامله ده دناوی خوا هم دزوم سره

راغلی دسوو کسانو په خوړولو چښلوباندی په لکو روپۍ مصرفه وی. دچاچی پنځه لوښی دی هغه(دلوښو د واده دپاره) دشپږو لکو دبرابرولو فکرکوی اوبیا ددې سببه غلا کوی، رشوت اخلی او دزوم دپاره هم دولیمې دونه لوی دعوت ضروری نه دی چی خیمې ولګیږی لس زره کسان راسی او په لکو روپۍ په ډوډۍ مصرف سی په پنځوکسانو هم ولیمه کیدای سی. که یوخاندان ځوك دعوت ته راونه بلی نو هغه دګلې حق نه لری.

داصحابو او مشائخو په نکاح کی سادګی

کراچی خوډیر لوی ښار دی، دمدینې شریفی په کوچنی کلی کی یو صحابی حضرت عبدُالرحمٰن اِبنِ عَوفؓ رسول اللّٰهﷺ دخپلی ولیمې دعوت ته راونه بلی، رسول اللّٰهﷺ دهغه پرکالو باندی دخوشبوئی ژړ رنګ ولیدی(په هغه وخت کی به دغه رنګ په واده کی پرکالو وهل کیدی) نو دا ورته معلومه سوه او پوښتنه ئې ځنی وکړه چی آیا تا واده کړی دی مګر علیه السلام پردې خوابدی نسو چی تا زه دولیمې دعوت ته ونه غوښتم.

زموږ پیر شاه ابرارُالحق صاحب دامت برکاتهم ویو ډیر لوی او باعزته خاندان ته خپله لور ورکړه، پروفیسرحکیم عرفان اللّٰه صاحب د دیوبند دمَجلس شوریٰ ممبر او دطِبیه کالج (پاکولتې) علیګړه(هندوستان) ډیر لوی طبیب وو، زموږ پیر وهغه ته وفرمایل چی ته خپل زوی راوله او یو کوچنی بل درسره راوله یعنی د(خپل کلی) علیګړه څخه تر (زموږ کلی) هردوئی پوری تر درې کسه زیات رانسی، بس پلار دی راسی، زوی کوم چی زوم جوړیږی او یو بل کوچنی راوستای سې ځلورم سړی به نه راځی. دغه ته وای سادګی.

لاکن نن سبا وائی چی په سادګی کی مو پزه پریکیږی، پزه خو دااللّٰه تعالیٰ په لاس کی ده که مو سادګی کړې وای نو به اللّٰه تعالیٰ ته موږ عزت مند وای.

په نکاح کی د اسراف وبال

کله چی اُمّت په ودو کی په خُرافاتو او بې ځایه مصرفو کی اخته سو دهغه وخت څخه په قرض، سودی قرض او رشوت اخستل غوندی ګناوو کی مُبتلا دی او ددغه ګناوو بیخ دغه بې ځایه خرڅ او اسراف دی. چی دنکاح برکت په کم خرڅ کی دئ نو اُمّت ولی برکت نه اخلی، ولی په ډیر خرڅ کی او دنامه دپاره دبرکت څخه ځان محرومه کوی.

په نکاح کی دګناوو رواجونه

نن سبا په ښادی کی چی کوم فلم جوړیږی هغه ته زه موئی وایم، په اولو وختو کی چی ښځو به چاته ښرا کوله نوبې ورته ویله موئی یعنی مړه سې. په فلم کی دبې حیائی انتهاء ده، دناوی او زوم سره دزوم نامحرمه دوستان او خپلوان هم ولاړ وی اوبیا کور په کور دغه فلم ښکاره کیږی. خپله لور، خوندی مندی، مږور ونورو ته وربنکاره کوی انتهاء ده دبې غیرتی، بیا وای چی صاحبه په عذاب یو، په روزی کی مو برکت نسته.

په رزق کی دبې برکتی سبب

کله چی اللّٰه تعالیٰ په غضب او ناراضه سی نو په روزی کی برکت دکومی خوا راځی؟ بعضی خلګ دا فکر کوی چی دوظیفې په ویلو سره به برکت حاصل کړو، ښه ئې واوری دوظیفې په ویلو سره رحمت خوبه راسی مګر که موږ ګناوی پرینږدو نو داللّٰه تعالیٰ غضب هم راځی، کله چی رحمت او غضب مخ په مخ سی نو لاره به څنګه ورکړی، ددې مثال دغه دی چی دګناه په کولو سره به داللّٰه تعالیٰ دغضب موټر راسی او دوظیفې په ویلو سره به درحمت موټر راسی، دواړه به یو او بل ته لاره نه ورکوی، غضب چی ایسته نسی نو رحمت هم نه راځی، دوظیفې په ویلو سره

رحمت نه حاصلیږی دګناه پر پریښودلو باندی رحمت حاصلیږی، ګناه پریږده بیا بې شکه وظیفه ووایه. راته وواياست پر کالو باندی مُرداری لګوی بیا عطر پر وهی که کالی پریولی بیا عطر پر وهی؟ دخدای ذکر عطر دی مګر اول دګناوو بدبوئی لیری که لاکن ددې دغه مطلب نه دی چی ترڅه وخته ګناه پاته نسی تاسی لمونځ او روژه هم مه کوی کوم چی فرض، واجب او سنتِ مؤکده دی. لمونځ او روژه هم وکه دالله تعالیٰ نوم هم واخله لاکن ددې عقیدې اصلاح ضروری ده چی ګناه پریښول ضروری نه ده بس وظیفه وایه ټوله کارونه به دی سم سی، هو دالله تعالیٰ نافرمانی پریښول ډیره ضروری ده، یوه ساه دخدای په نافرمانی کی دتیرولو خاوند پرخپل ځان باندی دخدای غضب حلاله وی ﴿اِلَّآ اَنْ یَّتُوْبَ﴾ هوکه ئې توبه وکښل هغه جلا خبره ده.

عزت دکوم شی څخه حاصلیږی؟

یوه سړی ماته نن وویل چی زه دشلو(۲۰)کالو ځوان یم لاکن دکوم وخت څخه چی ما ږیره پرې ایښې ده نو سپنسری ښځی هم ماته اکا وایی پر ما مسخرې کوی چی د اکا په ویلو سره وبیریږم او ږیره وخریم، ما هغه ځوان ته وویل چی ظالمه که سپنسری ښځی تاته اکا وایی نوپه دغه کی ستا عزت دی که ذلت؟ ته خو باید پر دغه عزت باندی شکر وکاږې همدغه رنګه که نن یو اوولس(۱۷) اتلس(۱۸)کلنه انجلی چادری وکړی نو دهغې خاندان هغې ته څه وایی؟ (په پسخند) موری لږ لار راکه. دلته هغه انجلی وبیریږی چی په چادری سره خو زه مور سوم، اې ظالمی! تاته الله تعالیٰ عزت درکوی چی لوی لوی خلګ تاته مور وایی شکر وکاږه چی الله تعالیٰ عزت درکی ته دغه غواړې چی خلګ تاته کوچنی انجلی ووایی؟

زما یودوست دعَلّامه شِبلی وراره عمر یې شپیته(۶۰) کاله وو ماشاء الله ډیره ښائسته ږیره ئې وه، هغه یو بس ته وروختی نو کوم هلکوان چی پرچوکی ناست وه هغه ولاړسوه او ورته وې ویل (داحترام په خاطر) چی اکا ته زموږ پر چوکی کښینه.

يو سړی دده څخه لس(۱۰)کاله مشر داوويا(۷۰)کالو پتلون ئې کړی، نِك ټائی تړلې، ږيره خريلې په يو ښه دفتر کی ئې کار کاوه هغه زما ددوست څخه پوښتنه وکړه چی ستا عمر څونه دی؟ ده ورته وويل شپيته(٦۰)کاله، نوهغه وهلکوانو ته وويل چی زه ترده لس کاله مشر يم تاسی ماته ولی ځای نه راکوی، ماته اکا ولی نه واياست؟ نو هلکوانو ورته وويل چی ته خو(دږيری دخريلو په سبب) وراره معلوميږې اکا کله معلوميږې، اکا خوبه هغه وخت معلوميږې چی ته دونه لو ږيره پريږدې.

پر عقل باندی دعذاب علامه

دا يوبل غضب دی بس څه درتهووايم پر غضب باندی غضب دی چی دنيك خاندان انجلی دلمانځه او روژې خاونده، پرده داره دپيسو په خاطر مور او پلار دا يو (مسلمان) امريکائی تعليم يافته بې دينه سړی ته ورکړی، کله چی هغه په چادری کی دخپل خاوند کورته ولاړه نو خاوند يې چادری ته اور ورواچوی او ورته وې ويل چی ته به لبِ شيرين، ميك اَپ او په لڅو کالوکی زما سره به کِلفتَن(داُوبو غاړی) ته ځې، بازارو ته به ځې، زما ددوستانو او خپلوانو سره به وينې، دغه دزړې زمانې چادری که دی وکړه نو زما عزت به په خاورو سی، خلګ به وائی چی دا څنګه دزړې زمانې پرده داره ښځه ئې راوستله. آه ! کوم شی ته چی اللّٰه او رسول عزت ورکړی وی نن مسلمان هغه ذلت بولی.

وواياست دښځی عزت په کوم شی کی دی، په پرده کی دی که په لڅ ګرځيدلو کی دی؟ آيا يوه شريفه او حياداره ښځه دغه غواړی چی نامحرمه خلګ دی ددې ووريښتانو او بارخوګانو ته په بدنظر وګوری او شپيلَکان پسی وهی، دښځی احترام دغه وو چی هغې لمونځ او روژه کولای، دخاوند خدمت ئې کولای، د اولادو پرورش ئې کولای او په پرده کی دباندی وتلای لاکن نن خاوند فيشنی مائينه دځانه سره په بازاروکی ګرځول خپل عزت بولی، که ئې ښځه چادری والا يی نوهغه شرميږی.

داځنګه عزت دی چی ستا ښځی ته نور خلک ګوری. دبې شرمی او بې غیرتی یوحد وی. کله چی انسان دالله تعالیٰ نافرمانی کوی نو دهغه پر عقل هم عذاب نازل سی او هغه ته ښه خبره هم بده معلومیږی. دغه(خبره) الله تعالیٰ داسی فرمائی

﴿اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوْءُ عَمَلِهِ فَرَاٰهُ حَسَنًا﴾ (سورة الفاطر،آیة۸)

یعنی شیطان بد ښه ورته ښکاره کوی بیا غلطی خبری خلک ښه بولی څرنګه چی ښځی بې پردګی ښه بولی مګر کوم چی نیکی ښځی دی هغه په پرده کی اوسیږی، چادری استعمالوی هغه دخدای دوستانی دی، روژه داره او لمونځ ګزاره دی دهغو احترام پر موږ لازم دی، موږ دهغو څخه دعا اخلو لاکن کومی چی بې پرده ګرځی، په خپلو وریښتانو او باړخوګانو باندی دخلګو ایمانونه ضایع کوی موږ به دداسی ښځو احترام هیڅکله ونه کړو. زما داکثره بیانو موضوع دغه وی چی دبې پردې ښځی وریښتان او باړخوګان زموږ دځوانانو ایمانونه ورضایع نه کړی.

دعشقِ مجازی څخه دځان ساتلو مراقبه

زما یو دوست (ویو بل وطن) هانګ کانګ ته ولاړی، په هانګ کانګ کی ډیره بې پردګی ده، هلته ښځی پرسړك باندی خلک رابولی چی دلته راسه موږ به دی چاپی کړو، وبه دی لمبوو، هغه ماته وویل که ما(ستا) دخانقاه اِمدادیه اشرفیه ګلشن اقبال بلاك نمبر دوهم بیانونه نه وای اوریدلی او دالله تعالیٰ دغضب او قهر او په قبرکی دحُسن بربادی او خپل قبرته تلل می مخ ته نه وای نو به زه په زنا کی مُبتلا سوی وای.

حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمائی چی دعشقِ مجازی مرض درې قسمه وی، بعضی خلک دښائستو هلکوانو سره عشق لری دښځو وخواته دهغو هیڅ میلان(شوق) نه وی او دبعضو میلان دښائستو ښځو وخواته وی دهلکوانو څخه دهغو خوا ګرځی او بعضی ددواړو وخواته میلان لری یعنی که هلك په لاس ورغلی دهغه سره مخ تورکړی اوکه ښځه په لاس ورغله نو دهغې سره مخ تورکړی.

اُوس وواياست دا دحُسن بې عزتي ده کنه؟ زه يوازې ښځوته نه وايم دښائستو هلکوانو نوم هم اخلم کله چې زه وايم که ستا دښائسته هلك سره عشق سته نو په قبر کې ئې وګوره چې دهغه دوريښتانو او باړخوګانو څه حال دی او دګناوو اعضاء يې څرنګه خاوری سوی دی، ټوله شيان ئې خاوری سوه، تاچې دکومو باړخوګانو مَچه اخستل او پر کومو سترګو چې ته عاشق وې په قبرکې خو ئې وګوره چې هغه خاوری څه سوې. زما شعر دی

کسی خاکی پہ مت کر خاک اپنی زندگانی کو
جوانی کر فدا اس پر کہ جس نے دی جوانی کو

ترجمہ: ديو خاورو پر بدن باندی خپل ژوند مه خاوری کوه ځوانی پر هغه چا قربان که چاچې ځوانی درکړې ده.

دعشقِ مجازی بربادی

بعضی خلک وايي چې ستا په خانقاه کې دعشقِ مجازی او بدنظری موضوع ډيره وی، زه هغوته دغه جواب ورکوم که په يوکلی کی دهيضې مرض راغلی وی نوهلته د زُکام او ريزش فکر به کيږی او که دهيضې؟ بدنظری، دحُسن لخ والی، فلم، سينما، فلمی غزلو نن زموږ ځوانان څرنګه رابرباد کړل، په کور کی ناست خلکو تاسی ته څه معلوم دی چې څه پيښنه ده، ترڅو چې دحُسن بربادی او دقبر حالات بيان نسی زموږ دځوانانو ايمانونه به ددغه ښځو څخه کوم چې لځی ګرځی ضايع کيږی.

يو ډير شريف سيد ځوان ما وليدی چې دهغه مخ ژړ سوی وو، دمخ هډوکی ئې راختلی وه او سترګی ئې ننوتلی وې، ما پوښتنه ورڅخه وکړه چې په تا څه کيږی، دتې بی مريض خو نه يې؟ راته وې ويل چې يا يو هلك ماته د زنا لخ فلم راښکاره کړی اُوس شپږ مياشتی کيږی ما لمونځ نه دی کړی هر وخت ناپاك يم، زما فکر هر وخت په هغه فلم کی دی، په سجده کی هم هغه خيال وی، چې لمونځ کوم په سجده کی هغه

لځ قلم مې مخ ته يي. آه ! د اُمّت پر بربادي باندې که نن دغه موضوع زه ډيره بيانوم نو بعضې نادانه او کم عقلو ته دا سوال ورپيدا دی چې صاحبه دغه مرض دلته ولې ډير بيانيږي. زه طبيب هم يم ماته داسې برباد ځوانان راغله چې راته وې ويل موږ به زهر وخورو، په زنا او بدکارۍ سره مو دونه مخ تور کړی چې اُوس په موږ کې طاقت نسته او واده مو رانژدې دی، زموږ علاج راوکه. دوی دغه زهر ولې وخوړله؟ پر دغه باندې زما شعر دی

حسینوں سے جسے پالا پڑا ہے
اسے بس سنکھیا کھانا پڑا ہے

ترجمہ: چاچې دښائستو سره دوستی کړې ده نوآخرکار دزهرو په خوړولو سره اخته سو.

ددې شعر دوې معنٰی وی دی که جُدائی ورسره راغله او هغه معشوق ئې نه کړی حاصل نو دهغه په غم کې ئې زهر وخوړل اوکه هغه معشوق ئې حاصل کړی نو دونه منی ئې پرضایع کړه چې نامرده سو اُوس ئې دسِنکهیا کشته وخوړل په دواړو حال کې يعنی چې حاصل سو هم او چې جُدا سو هم ئې سِنکهيا(زهر) وخوړل.

دعشقِ مجازی دبربادۍ دونه قصې زما په سينه کې دی که دحُسن او عشق دبربادۍ او دصحت دخرابوالی او دايمان پر بربادی باندې که کتاب وليکم نو پنځه زره ورقی کتاب به وليکل سی بياهم مايو مختصر کتاب ليکلی دی دهغه نوم "دروح ناجوړيانی او دهغو علاج" دی، زموږ په کتاب خانه کې سته دغه ووایاست.

دښځې عزت په کوم شی کې دی؟

که ديو سړی زما دغه مضمون نه وی خوښ هغه دی زما خانقاه پريږدی، ماته دی نه هغه سړی راځی او نه دی هغه ښځه راځی(ښځې په پرده کې بيان اوری) دچا چې زما بيان نه وی خوښ او هغه وای چې کله ته دحُسن بربادی او دښځې بې عزتی بيانوې نو زه ډير په تکليفيږم، تاسی ووایاست دحُسن بربادی او خُرافات په دې خاطر

بیانول چی دځوانانو ایمان محفوظه سی او په فلم کی چی کومی ښځی لځی ښکاره کیږی دهغو دفتنې څخه زموږ دځوانانو ژوند محفوظه سی. دا دښځی بې عزتی ده که دهغې عزت اواحترام دی چی دهغې دحُسن فنائیت په ښکاره کولو سره دحَوَس ناکو، بدکارو او فاسقانو خلګو څخه دا وساتل سی، دا بله خبره ده چی یوښځه داسی بده یی چی دې ته خطر وی چی دداسی خبرو په اوریدو سره زما دعاشق په نظر کی زما دحُسن قیمت کم نسی نو دداسی نالائقو ښځو خبره زه نه کوم.

زه ودااسوکسانوته ضرورت نه لرم چی زما په خبرو سره په تکلیفـیږی، زه اعلان کوم که چاته زما په خبرو سره فائده نه رسیږی نو پوه دی سی چی دهغه زړه زما سره نه لګیږی. لهٰذا زما دخبرو داصلاح کوښښ دی نه هغه سړی کوی او نه هغه ښځه، کوم مریض چی دډاکټر اصلاح کوی پر ډاکټر باندی فرض ده چی هغه دهسپتال څخه وباسی، تاسی ووایاست چی دمُرغانو خرڅلاوو والا یا سبزی فروش ویوه ډاکټرته دغه صلاح ورکولای سی چی ستا ګولی دوه نیم زره ملی ګرامه ولی ده ددې څخه په کم باندی هم کارکیږی. همدغه رنګه یو روحانی مریض(په ګناووکی اخته سړی) هم دغه حق نه لری چی وخپل روحانی طبیب(پیر) ته دغه صلاح ورکړی چی صاحبه دلته دغه مضمون ولی ډیر بیانیږی. زه دشلوکالو څخه دغه بیانوم او خلګ زما دونه مهربانی وایی چی آه ! ستا دبیان د اوریدو ترمخه موږ ډیرخطرناکه او ډیر بد ژوند تیروی ددغه بیانو په برکت سره اللّٰه تعالیٰ موږ ته دعشقِ مجازی او دښځو څخه نجات راپه نصیب کړی.

هغه نیکی بیـبیانی کوم چی پرده کوی، دخدای دوستانی دی، ددې بیانو څخه هغه زموږ مقصد نه وی، موږ خو دهغو څخه دعاوی اخلو، دداسی ښځو چی کله تلیفون راسی نو زه هغوته وایم چی زما دصحت دپاره دعا کوی، که یوه ښځه راته ووایی چی عمرې ته ځم زما دپاره دعا وکه نو زه هم هغې ته ددعا دا ووایم، داسی

ښځې موږ دخدای دوستانې بولو، زه خو خپله دهغو صفت کوم لاکن دچاچې بد بیانوم دهغه څخه معنٰی هغه خبیثې ښځې دی چې په بازارو کې بې پرده لڅې ګرځې، لږخو دی عقل استعمال کړی، انسان باید دونه بې عقل او لیونی نه وی، زما په مطلب دی پوه سی، زه دښځو بې عزتي نه کوم، زه دهغه ښځو ډیر احترام کوم چې دخدای دوستانې وی، دهغو ښځو ددعاوو زه محتاجه یم، زه دهغوی څخه خواست هم کوم چې ماهم په دعاوو کې یاد ساتی، کله چې زه دحُسن خرابی بیانوم نو دهغه څخه معنٰی هغه ښځې دی چې پر سړکانو باندی لڅې ګرځې، دهلکوانو سره یوځای سبق وایې، وهلکوانو ته اشارې کوی او زموږ دځوانانو ایمانونه ورضایع کوی، زه دداسې حُسن احترام وکم؟ دداسې حُسن پر احترم باندی زه لعنت وایم چې زموږ دځوانانو ایمان راضایع کوی.

دائیرهوستېسو(هغه ښځې چې په طیاره کې کارکوی)دذلت وظیفه

زه په طیاره کې دشپې او ورځې تګ راتګ لرم ما په خپلو سترګو ولیدل چې دښې کورنې انجونې دی لاکن هلته ئې پوړنې غورځولی ډوډی ځغله وی او هوائی مزدورانې دی او دپیلوټ او په طیاره کې دکارکونکو ځوانانو او نابلده خلګو سره پر چوکې باندی پښه دپښې سره مُوښتې ناستې یې او خبری شروع دی، تردې حده چې یواری زموږ پیر او زه په طیاره کې ناست وو، دعمرې که دحج سفر وو، یوې ائیرهوستېسې خپل زنګنونه زما دزنګنو سره مُوښتې نژدې پرچوکې کښینستله، نو موږ دستې دطیارې وکارکونکوته حال ورکړی اوکوم چې دطیارې کارکونکې او زموږ دوستان وه هغوته مو وویل چې دغه انجلی ته ووایه چې بل ځای کښینې. دا ستا دخوندو مندو حال دی نو اُوس ووایه چې دهغو دحُسن هلته په طیاره کې بې عزتي

شروع ده او که زما په بیان کی ئې بې عزتی کیږی.

تا ددې خبری غم خو ونه کړی چی خوندی مَندی دباندی بې پرده ګرځی او خلک هغو ته په بدنظر ګوری، هلته بې عزتی په نظرنه درځی، خدای دی دهغی ښځی دعقل څخه عذاب لیری کی چاچی ماته تلیفون راوکی. ددې بې پردګی او عشقِ مجازی څخه داسی خطرناکه حالات پیدا سوی دی چی په اوریدو سره یې دبدن وریښتان شخ ودریږی، داسی دوې قصې درته وړاندی کوم.

دبدنظری عبرتناکه انجام

حضرت مولانا تهانوی رحمة اللّٰه علیه په خپل بیان کی وائی چی دهندوستان دتقسیم ترمخه یوه سړی خپله آرایش کړې ښځه په ښه کالو کی دشمله شنه غروته دهوا خوری دپاره بوتله، څنګه چی په پاکستان کی دمَرِی شنه غرونه دی همدغه سی په هندوستان کی شمله ده، په هغه وخت کی هلته د انګریزانو کورونه وه، دګرمی شپې وې، دیو انګریز پرکور باندی توفکان نیولی دوه انګریز عسکر چوکیداران ولاړ وه، دغه سړی پتلون کړی، نِك ټائی تړلې، خپله بې پرده ځوانه ښځه ښه جوړه کړې، دهغې فیشن ئې ښکاره کاوه چی دغه نوې زمانه ده، موږ تعلیم یافته او پرمخ تللی خلک یو، نَعُوذُ بِاللّٰه اُوس درسول اللّٰهﷺ زړه زمانه نه ده، اُوس ددې پرمخ تللی زمانې دبې پردګی عذاب واوری کوم چی حَکیمُ الامت حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه په خپل نصیحت کی بیان کړی او کوم چی نن ئې زه په مسجد کی بیانوم، دغه دواړه چوکیداران دلندن څخه یوکال کیدی چی راغلی وه، دشهوت اور یې بل وو، بې پرده ښځه ئې ولیده نو وواياست چی څه حال به ئې سوی وی؟

اې ظلمانو! په دغه درته وایم چی پرځان باندی رحم وکی، اُوس هم زما دبیان قدر وکړی اوکه بیاهم تاته فائده نه رسیږی نو خانقاه ته راتګ پرېږده، ښځه بې پرده ګرځوې لاکن یو پاؤ غوښی په کڅوته(خَلته) کی پُټی وړې چی دهَوا مُرغه یې

یونسی، یو پاؤ شیدې دپیشی څخه پُټوې چی پیشی یې ونه چښی او زر روپۍ دی په جیب کی دی نو پر جیب باندی لاس ایږدې چی غل ئې راڅخه غلا نه کړی، په دغه شیانو کی خپله دتلو طاقت نسته، په پیسو کی دونه طاقت نسته چی وغله ته خپله ولاړی سی، په شیدو کی دونه طاقت نسته چی پیشی ته ولاړی سی، په غوښو کی دونه طاقت نسته چی خپله ومُرغه ته په هَوا سی مګر په ښځه کی دغه خاصیت سته چی خپله یوځای ولاړه سی. په اخبارو کی وایو چی ښځه عاشقه سول او دکور څخه ولاړه، نو دیو پاؤ شیدو قدر کونکو! دیو پاؤ غوښو حفاظت کونکو! په جیب کی پر زرو روپو باندی لاس ایښونکو! خپله خور او مور یوازی استوی تاسی شرم او غیرت نه لری.

زه په ناظم آباد کی شل کاله اوسیدلی یم، هلته زما یودوست چی دیوکالج (پاکولتې) مُدیر وو یوه قصه ئې راته وکړه چی ماته یو سړی راغلی هغه راته وویل چی زما لور درې شپې کیږی چی کورته نه ده راغلې ته وګوره چی په کتاب کی ئې حاضری سته که یا؟ ما ورته وویل چی ستا لور خو هره ورځ په ټولو سبقانو کی حاضره وی اُوس ددې ځای څخه که ستا کور ته درنسی نو په موږ اړه نه لری، نو پلار ئې وای چی ok ok اَوکې اَوکې(یعنی پروا نه لری) هغې ته دی څوك څه نه وایی زموږ دطرفه څخه اَوکې یعنی بس دکالج غیر حاضری دی نه وی نور هر چیری چی اوسیږی، دهر هلك سره چی اوسیږی موږ پرهغه باندی هیڅ اعتراض نه لرو، دکالج مُدیر دغه راته وویل نوپه ژړا سو ځکه چی صوفی لمونځ ګزاره دخدای دوست وو.

لهٰذا که زه دعشقِ مجازی مرض بیانوم نوکوم سړۍ چی زما خبری نه خوښوی، پرځای دفائدې هغه دغه اعتراض کوی چی دلته هر واری داغه بیان کیږی نو دچاچی دغه مضمون نه وی خوښ هغه دی ومفتی رشید احمد صاحب ته، مولانا سَبحَان محمود صاحب ته، مولانا تَقِی عُثمانی صاحب ته یا مولانا مُفتی ولی حسن صاحب الغرض دډیرو بزرګانو بیانونه کیږی هلته دی ولاړسی، ما دی پریږدی، دلته داسی سړی ته

فائده هم نه رسيږی، زه خو دهيضې ومريض ته دهيضې ستن(پيچکاری) ورلګوم. لهٰذا دکوم سړی چی زما سره زړه نه لګيږی هغه دی زما مَجلس ته نه راځی.

حکيمُ الامت تهانوی رحمة اللّٰه عليه فرمائی چی دبزرګانو څخه عمری دوه قسمه خلګوته ګټه رسيږی، يا به (سړی) دهغه بزرګ سره بې انتهاء محبت لری چی دهغه هره خبره ده ته ښه معلوميږی يا به ډير دعقل خاوند وی چی دهغه په هره خبره ئې سرخلاص سی چی په دغه خبره کی ئې دغه حکمت دی، که سړی بې عقل وی يا عاشق نه وی کوم څوك چی نيك ګمان نه لری نو داسی خلګو ته دبزرګانو څخه فائده نسی رسيدای. زه بيا اعلان کوم چی زما د اصلاح فکر پريږده، مريض حق نه لری چی دډاکټر اصلاح وکړی، که تاته زما خبره ښه او دګټی معلوميږی نو راسه پر سَر او سترګو راسه، موږ ستا دپاره لاس په دعا يو، دعرفات په ميدان کی، په منٰی کی، په مزدلفه کی، دروضې مبارکی ومخته، په بيت اللّٰه کی چی اې خدايه څوك چی خانقاه ته راسی هغه محرومه ولاړ نسی، هغه دنسبت خاوند(دخدای دوست) که.

زما ددعا او زما دفريادو قدر وکړی، ډيره کم عقله ده هغه ښځه چاچی ماته دغه تليفون راوکی چی صاحبه دحُسنِ مجازی انجام په بيانولو سره دښځی بې عزتی کيږی، که دغه ښځه نن نه وی راغلې نوکومی ښځی چی راغلی دی ودغه ښځی ته دی زما دغه خبره ور ورسوی چی هغه دی بيا هيڅکله دلته نه راځی، زه داغه مضمون عمری بيانوم دکوم چی نن سبا هيضه راغلې ده، دکوم څخه چی دأُمّت ځوانان بربادیږی.

کشکی هغه جوړې ته کوم چی شمله ته تللې وه يو مُلا، يو دخدای دوست دغه ورښولی وای چی زويه خپله ښځه بې پرده دباندی مه بيايه داسی نه وی چی ستا دښځی عزت برباد سی، هغه دواړو عسکرو دتوفك په زور دهغه سړی بې پرده ښځه کش کړل او د ميړه ومخته ئې مخ ورسره تورکړی، وګوری دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه عليه

په بيان کې دغه قصه ده. نور ځان فيشني وبولي، نور خپل خوندی مندی په بازارو کې بې پرده او لڅې ګرځوی او دغه عذاب وګوری یعنې خاوند نِك ټائې کړې ولاړدی او خپله ښځه وینی چې څه ورسره کیږی او دڅه کولو طاقت نه لری ځکه چې هغه توفك والا وه، که دغه ښځه په پرده کې وای نو دغه به نوای ورسره سوی، تر ننه پوری دیو پرده داری ښځې سره زنا نه ده سوې، که سوې ده نو اول هغه بې پرده سوې ده بیا پکښې اخته سوې ده، که په پرده کې وای نوبه په حفاظت کې وای.

په دغه خاطر اللّٰه تعالیٰ وخپلو بندګانوته حُکم ورکړی دی چې خبردار خپلې سترګې دچا پر ښځې، دچا پر لُور، دچا پر خاله، دچا پر خور، دچا پر مور باندی مه اچوه ، دغه دښځې احترام دی، دغه ئې احترام نه دی چې زه دغه مضمون بیانول پریږدم او ته بې حیا ګرځه، که ته خپل اصلاح غواړې نوبه دغه اورې، وواياست دښځو احترام په تقویٰ کې دی اوکه داللّٰه تعالیٰ په نافرمانی کې دی چې دښځې حُسن باید دونه ښکاره سی چې خلګ دهغې په عشق کې اخته سی.

کومې ښځې چې په پرده کې اوسیږی، لمونځ ګزاره او روژه داره دی هغوته موږ خپله ددعا دپاره وایو، اَلحمدُلِلّٰه دلته په بیان کې(ښځې په پرده کې بیان اوری) ډیری داسې دخدای دوستانی ښځې راځی دچاچې ددعاوو موږ شوق لرو او هغه ددې خبری شهادت هم ورکولای سی چې کله دهغو تلیفون راغلی دئ نوما ورته ویلی دی چې ما هم په دُعاوو کې یاد ساتی، که زما په زړه کې ددې خوندو مندو احترام نه وای نوما ددوی څخه ددُعاوو خواست ولی کوی لاکن زه غواړم چې څوك ستا لُور بې عزته نه کړی، ته هغه په پرده کې وساته، چادری په وکه.

دا دبې پردګی عذاب دی چې خلګ ښځې غلا کې دهغو سره مخ تورکړی بیائې مړې کې، په دغه خاطر دشریعت حُکم دئ که دکوره څخه وزې نوپه پرده کې وزه، ښادی او ودو ته په ساده کالوکې ځه، ستا پر حُسن باندی دچا نظر ونه مُبتلی،

ستا حُسن او ښائست دی ستا دمیړه دپاره مبارك وی.

زه وخپلو دوستانو ته داغه وایم که پر یو ښائسته هلك باندی نظر ومُښلی نو دستی دغه ووایه چی اې اللّٰه دده حُسن دده دښځی دپاره مبارك که، ولی که یو ښځه دخپل ځوان ښائسته میړه مَچه واخلی نو دا جائزه ده که یا؟ اوکه پر یوې ښائستې انجلی باندی بیله ارادې یودم نظر ومُښلی نو دغه دعا وکه چی اې خدایه ددې حُسن ددې دمیړه دپاره مبارك کړې.

په بدنظری سره کورنی ژوند برباد سی

ډیری بې چارې ښځی په ژړا راځی تعویذ غواړی چی زما میړه دفلمو په خاطر دنورو ښځو وخواته متوجه دی، ما بَنگِی بُولی. آه! په کور کور کی دشهوت پرستی اور بل دی او ماته دغه تعلیم راکولکیږی چی ته دغه مضمون مه بیانوه، ووایاست! زه ددوو شپو څخه ددې ښځی دبې عقلی څخه دونه په غم کی یم، په دونه تکلیف کی یم چی حَد نه لری.

اکثره ښځی په تلیفون کی ژاړی چی په بازارو کی دحُسن دعُریانی او بې پردګی په خاطر زه دخپل میړه دمحبت څخه محرومه یم، نورو ښځوته چی سړی وګوری نو وخپلی ښځی ته وایی چی ستا حُسن کم دی، زما خو قسمت خراب دی، زما مور ته سمه نه وې لیدلې. دغه خبری په دې خاطر وی چی شیطان دسړك ښځی وانسان ته ډیری ښه معلوموی، جادو پر وکی په دې خاطر دبازارو ښځی ډیری ښائستې معلومیږی، دا دشیطان مَکَر(خطا ایستل) دی، اللّٰه تعالٰی چی کومه یوه درکړې ده پر هغه باندی راضی اوسه.

په حدیث شریف کی دی چی دغه مسلمانانی بی بی ګانی به په جنت کی تر حُورو ډیری ښائستې کړل سی. دبل چا شی دبل چا وبوله، دبل چا شی ته په کتلو سره خپل زړه ناقراره کول تردې بې عقل انسان به څوك وی؟

دنن څخه پنځلس کاله ترمخه یو سړی په هسپتال کی داخل سو او دیو بې پرده کم عمره نَرسِی(په شفاخانه کی کارکونکې ښځه) سره ئې زړه ولګیدی، دده ښځه او خاندان ماته په ژړا راغله چی موږ به مړه سو، ددغه سړی دپاره تعویذ او دعا وکه، ماهم واللّٰه تعالٰی ته ډیر وژړل بیا هغه سړی ددغه څخه خلاص سو او په خاندان کی چی ئې دکوم غم اور لګیدلی وو هغه ددې غم څخه خلاص سول.

زه په دغه وایم چی دغه وخت ددغه مضمون دبیانولو ډیر ضرورت دی، ډیری داسی انجونی چی تر اُوسه ئې ودونه نه دی سوی زما سره د اصلاح دپاره تعلق لری(یعنی مُریدانی می دی) هغو ماته په اصلاحی خطو کی ولیکل چی ستا په بیانو سره موږ ته ډیره فائده ورسیدل او موږ دبدنظری څخه وساتل سوو او په اخبارو کی هم دخلګو وعکسوته نه ګورو. ووایاست! آیا ځوانانو انجونو ته فائده حاصلیږی که یا؟ الحمدُلِلّٰه دونه فائده ورته حاصله سوې ده چی ماته دښځو اصلاحی خطونه راځی، تلیفونونه راځی وایی چی موږ تاته او ستا دژوند دپاره دُعاوی کوو ځکه چی ستا ومَجلس ته په راتګ سره زموږ ډیری ګناوی پاته سوې.

مریض پر طبیب باندی د اعتراض حق نه لری

لاکن داسی لیونی ښځی ته زه څه ووایم چی زما زړه ئې را زخمی کی، دداسی بې عقلی څخه دی خدای تعالٰی تږوله وساتی، دخدای تعالٰی څخه دُعا کوم چی خدای دی ودې ښځی ته هدایت ورکړی، ددې زما دمضمون سره زړه نه لګیږی، که زما دخبرو څخه فائده نه ور رسیږی نو دعا وکی چی دا بیا هیڅکله دلته رانسی ځکه چی ددې دلته راتګ بیکاره دی، چی فائده نه وی نو خپل ژوند ولی ضایع کوې، ونورو عُلماوو ته ورسه لاکن دډاکټر د اصلاح حوصله مه کوه، دې ښځی په تلیفون کی زما د اصلاح کوښښ وکی حالانکه مریض څه حق لری چی ډاکټر ته صلاح ورکړی، که زما دعلاج څخه تاته فائده نه رسیږی نو وبل ډاکټر ته ورسه، په بل هسپتال کی داخله

واخله، دغه خو دروحانی ناجوړیو(یعنی دګناوو دپریښولو) هسپتال دی، زما دغه بیانونه عامی خبری مه بوله.

نن هرڅای بیانونه کیږی نو آیا ددې دغه مطلب دی چی دچا زړه وغواړی هغه دی بیانونکی تر غوږ ونیسی؟ دغه روحانی هسپتال دی، دلته هیڅ مریض ته دغه اجازه نسته چی هغه ماته صلاح راکړی، که یوچاته فائده رسیږی نو دلته دی اوسی که فائده نه وی ورته نو وبل ځای ته دی ولاړسی.

دخواجه صاحب شعرونه دی

جائے جسے مجذوب نہ زاہد نظر آئے
بھائے نہ جسے رند وہ پھر کیوں اِدھر آئے
فرزانہ جسے بننا ہو جائے وہ کہیں اور
دیوانہ جسے بننا ہو بس وہ ادھر آئے
سو بار بگڑنا جسے منظور ہو اپنا
وہ آئے یہاں اور بچشم و بسر آئے

ترجمہ: هغه سړی چی نه مجذوب وینی نه زاهد وینی، دچاچی دګناهګاره سره نه لګیږی هغه ولی دلته رائحی، خوك چی ځان څه بولی هغه دی ولاړسی بل ځای، که خوك ځان(دخدای په محبت کی) لیونی کول غواړی هغه دی دلته راسی، که خوك (دخدای په لارکی) سل واره ځان ذلیله کول غواړی هغه دی راسی پر سروسترګو دی راسی.

زه ستا محتاجه نه یم، زما عزت دالله تعالی په لاس کی دی، دشمسُ الدین تبریزی رحمة الله علیه بس یوخلیفه مولانا جلالُ الدین رومی وو لاکن په ټوله دنیا کی ئې نوم وځلیدی، دشلو کالو څخه زه پرخپلو بیانو باندی دخلکو څخه مهربانی او دُعاوی اورم، په شلو کالو کی ماته اول وار داسی تلیفون راغلی چی ته په خپلو بیانو

کی چی دحُسن کوم انجام بیانوې او دحُسن چی کوم فناتوب ته بیانوې په هغه خو دښځی بې عزتی کیږی.

دحُسن فناتوب بیانول دچا بې عزتی نه ده

آیا دغه دښځی عزت دی چی هغه پر سړکانو باندی لڅه ګرځی؟ زما مقصد دبې پرده ښځو دحُسن فناتوب بیانول دی چی خلګ دهغو په قصه کی برباد نسی. زه دحسنِ مجازی په فناتوب کی لغړزنی هلکوان هم بیانوم، ډیر خلګ دلغړزنو هلکوانو په عشق باندی مُبتلا وی، دهغو باړخوګان او تور وریښتان هم په دغه کی شامل دی، دسپنږرتوب وروسته په دې هلکوانو کی به څه پاته سی، پر دې باندی زما شعر دی

کمر جھک کے مثلِ کمانی ہوئی
کوئی نانا ہوا کوئی نانی ہوئی

ترجمہ: ملا یې کړوپه په مثال دکمانی سول څوك انا سوله څوك نیکه.

آیا په دغه شعر کی دچا بې عزتی کیږی؟ زه وهغی ښځی ته چاچی ماته تلیفون راوکی وایم چی په قونیه(تُرکی) کی دمولانا رومی پر قبر دی هم دغه خبره وکی کومه خبره چی ئې ماته په تلیفون کی وکړه چی دحُسنِ فانی د انجام په بیانولو سره ښځه بې عزته کیږی، اُوس پر حسنِ فانی باندی دمولانا رومی شعر هم واوری

زلفِ جعد و مشکبار و عقل بر
آخر او دم زشت پیر خر

اې انسانانو، اې ایمان والو، دچا چی وریښتان تور دی، پیچیلی دی، مُشك بار دی یعنی دمُشکو بوئی ئې ځی، عقل بَـر دی یعنی دخلګو عقل وړی، پر هغو باندی ایمان مه ضایع کوی، پر هغه ځان مه قربانوی، کله چی دغه دتورو کوڅیو ښځی سپنسری سی نو دهغو چُوټی ګان به د زاړه خره دلکۍ په مثل معلومیږی، دغه دچا کَلام دی؟ زه دمولانا جلالُ الدین رومی رحمة اللّٰه علیه دفارسی شعر ترجمه درته بیانوم چی خبردار

دیو چا پر تورو کوڅیو باندی مه خطاوزه، په پیری کی به دهغو دغه چُوتې د زاړه خره دلَکۍ په مثل معلومیږی.

آخر او دم زشت پیر خر

دلته دپیر معنٰی سپنږیری دی، پرچا باندی ایمان ورکوې، پرچا باندی ځان قربانوې، اُوس پر دې باندی هم ووایه چی زه دمولانا رومی کتاب هم نه وایم ځکه چی په دې کی دښځی بې عزتی راته معلومیږی، خپل احترام دی واخله بل ځای ته ولاړه سه، زه داسی اوریدونکی ښځی او نَـر نه غواړم چی دونه عقل هم نه لری، داسی بې عقلان زما څخه ګټه نسی اخستای، هغه ناقی په ناقی خپل ژوند ضایع کوی، زه ودغه ښځی ته وایم چی خبردار دادی دلته نه راځی، ووایاست آیا دمولانا رومی رحمة اللّٰه علیه ددغه شعر څخه ځوانان عقل اخلی که یا؟ آیا دداسی شعر څخه د اُمّت د ایمان حفاظت کیږی که یا؟

پرهیزګاره میړه دخپلی ښځی سره ډیر محبت کوی

اُوس به زه یوه بله خبره درته وکم که ستاسی مړونه هم دغه شعر واوری نو خپله ښځه به هغه کمتره نه بولی، دهغه نظر به دنورو ښځو څخه وساتل سی، په یاد ئې وساتی په دې شعرو سره، زما په بیانو سره او دخدای په فضل اوکرم سره دچا خاوند چی څونه لوی دخدای دوست جوړسی (هغونه به) دهغه ددې بې پرده ښځو دوریښتانو او باړخوګانو څخه بد کیږی او ستا خاوند به ستا عزت کوی، دغه مَسئله درته بیانوم چی خاوند څونه پرهیزګاره وی هغونه به دهغه دخپلی ښځی سره محبت ډیر وی ځکه چی کله دهغه په زړه کی دنورو ښځو دباړخوګانو او تورو وریښتانو څخه نفرت وی نو ستا قدر به نور هم ورسره زیات سی اوکه ستا میړه دوری هوری ګوری او دنورو ښځو دحُسن احترام کوی نو بیا پوه سه چی ستا به څه حال وی.

بې عقلي دخداى قهر دى

يوحَد وى د بَدګُماني، اُوس كه زه دغه ووايم چى په ګناوو كى، دالله تعالىٰ په نافرماني سره چى كوم عيش او عِشرت(خوشحالي) حاصل سى پر داسى عيش او عِشرت باندى دى لعنت وى نو دغه عِشرت صاحب(دحضرت صاحب دخاص خادم نوم عِشرت دى) دلته ناست دى، كه دئ ولاړسى او ووايى چى صاحبه تا زما بې عزتى وكړه، ته په مضمون خو پوه سه چى پركوم عِشرت(خوشحالي) باندى زه لعنت وايم كوم چى دالله تعالىٰ دنافرماني دلارى څخه حاصل سى، بې عقلي په اصل كى ديو ګناه په سزا كى پر عقل باندى دخداى قهر دى، اِلٰهى عذاب دى، ددې بې عقلي هيڅ علاج نسته.

حضرت عيسٰى عليه السلام ديو بې عقل څخه ځغستل، يو اُمتى ورته وويل چى ته دده بې عقلي ورليرى كه، ته خو پر پيس لاس تير كړې نو هغه ښه سى، پر ړوند لاس تير كړې نو دهغه سترګى سمى سى او ته پر بدن باندى سپين ټيكى والا سړى هم سمولاى سې، لاكن دا څنګه خبره ده چى ته دبې عقل څخه ځغلې، ته پر ده هم لاس تير كه دده بې عقلي به ليرى سى نوحضرت عيسٰى عليه السلام ورته وفرمايل چى بې عقلي دالله تعالىٰ عذاب او قَهر دى، دخداى عذاب هغه وخت ليرى كيږى چى دئ توبه وكاږى.

لهٰذا ما درته وويل چى دنن څخه به ما ته څوك داسى تليفون نه راكوى، نه به داسى خط څوك راته ليكى، زما د اصلاح دپاره زما پير كافي دى، ته زما د اصلاح فكر پريږده، كه زما ډاكټرى ستا په درد نه خورى نو زما مُستَشفٰى، زما هسپتال، زما خانقاه پريږده وبلى خانقاه ته ولاړسه كه نې داسى مريض ته شفاء نسى حاصليداى كوم چى دډاكټرانو اصلاح شروع كړى.

پر پیر باندی اعتراض کول دمحرومی نښانی ده

مُلّاعلی قاری رحمة اللّٰه علیه فرمائی

﴿مَنِ اعْتَرَضَ عَلٰی شَیْخِهٖ وَنَظَرَ اِلَیْهِ اِحْتِقَارًاالاَ یُفْلِحُ اَبَدًا﴾ (المرقاة،ج١،ص٣٧٤)

چاچی پر دینی پـیر باندی اعتراض وکی او هغه ئې کم وبولی نو هغه هیڅکله فلاح (ددین او دنیا کامیابی) نسی حاصلوای. حاجی امداد اللّٰه صاحب فرمائی دچا چی دخپل دینی پیر سره ځونه نیك ګُمان، ځونه ادب، ځونه اکرام وی هغونه ډیره فائده هغه ته رسیږی. دغه لاره دخدای ددوستانو ده، دغه روحانی لار ده، کوم کسان چی دغه عام غوندی بیانکونکی دی چی دڅو بیان کولو وروسته ځان بزرګ بولی مګر په یو بزرګ ئې اصلاح نه ده کړې داسی غوندی خلګ دبزرګانو پر هره خبره باندی اعتراض کوی، ددوی په دماغ کی د اوله سره څخه اعتراض شامل کړل سی، اعتراض کول ددوی دین جوړسی، د اصحابو څخه نیولې بیا تر نبـیانو پوری هیڅوك هم نه پریږدی، پر ټولو باندی اعتراض کوی چی په ده کی دغه خرابی ده، په هغه کی دغه خرابی ده، زموږ دبزرګانو لاره د ادب لاره ده، ددې قسم د ویونکو او لیکونکو خلګو لاره نه ده.

اے خدا جوئیم توفیقِ ادب
بے ادب محروم ماند از فضلِ رب

اې اللّٰه موږ ستا څخه د ادب توفیق غواړو ځکه چی بې ادبه ستا دفضل څخه محرومه وی.

دعشقِ مجازی علاج

اُوس دعشقِ مجازی علاج درته بیانوم، ووایاست کوم هلك چی شـپږ میاشتی تر مخه بې لمانځه سو، مخ ئې ژړ سو، هډوکی ئې راوتلی وه که ماته نه وای راغلی نو به

مړسوی نه وای؟ بیا ما هغه ته علاج وروښوی، دعشقِ مجازی مرض په ډیر مشکل سره وځی، سړی وژنی، تر قبره پوری سړی رسوی. لهٰذا ټوله خلګ دی دعشقِ مجازی علاج واوری، حکیمُ الاُمت مُجدِدُّالمِلت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة اللّٰه علیه یو علاج ښوولی دی که پر یوښائستې باندی نظر ومُبتنی او دهغې محبت دزړه څخه نه وتی نو دعشقِ مجازی، دغیراللّٰه محبت دزړه څخه دلیری کولو علاج واوری.

۱) پاك كالی واغونده، عطر وواهه، پنځه تسبیحات(۵۰۰واری) د لَا اِلٰه اِلَّا اللّٰه ووایه، کله چی لَا اِلٰهَ وایه نو په زړه کی فکر وکه چی په زړه کی می څونه دغیراللّٰه بُتان(یعنی دهغو محبت) ننوتلی دی ټوله ما دزړه څخه وایستل او کله چی اِلَّا اللّٰه وایه نو خیال وکه چی وزړه ته می داللّٰه تعالیٰ نور راغلی او زما لَا اِلٰهَ عرشِ عظیم ته ورسیده او داللّٰه تعالیٰ سره ئې ملاقات وکی. دمشکوٰة شریف حدیث دی کله چی بنده پرمځکه باندی لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وایی نو دغه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه تر اوو آسمانو پورته سی او داللّٰه تعالیٰ سره ملاقات وکی. دمشکوٰة شریف روایت دی

﴿لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ لَیْسَ لَهَا حِجَابٌ دُوْنَ اللّٰهِ﴾

(المشکوٰة، کتاب الدعوات،ج۲ ص۷۱٦،المکتب الاسلامی)

نو چاته چی دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ویلو توفیق وسو نو هغه دی پوه سی چی په دې بهانه ئې دخپل رب سره ملاقات کیږی، موږ که رب ته نسو رسیدای زموږ کلمه خو داللّٰه تعالیٰ سره ملاقات کوای سی، ددې قدر دعاشقانو څخه وپوښتی.

بس ہے اپنا ایک نالہ بھی اگر پہنچے وہاں
گرچہ کرتے ہیں بہت سے نالہ و فریاد ہم

ترجمہ: دخدای تعالیٰ ودربار ته چی زما یو فریاد هم ورسیږی (یعنی قبول سی نو زما دپاره کافی دی) که څه هم زه ډیره ژړا او فریادونه کوم.

انشاء اللّٰه دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه دکلمې په برکت سره به په یو څو شپو کی دزړه دنیا بدله سی

که (سړی د ګناوو په خاطر) لیونی سوی هم وی نو ویلیم فائب او تڼ(دخوب ګولی) به ټوله ځنی پاته سی او دالله تعالیٰ په نامه سره به خوب هم ورځی.

۲) فکر وکه چی زه مړ سوی یم او په کومو اعضاوو چی ګناوی کیدلې په قبر کی هغه اعضاوی چِنجیان خوری او دهغه هلك او ښځی فکر وکه چی په قبر کی دهغو پر اعضاوو باندی په زرهاوو چنجیان مُوښتی دی، وګوری زه عُمری دهلك او انجلی ددوارو دحسن انجام بیانوم، څه معلوم څوك داسی بې عقله ښځه ده چی دا ورته محسوسه سوه چی دحسنِ مجازی انجام په بیانولو سره دښځو بې عزتی کیږی (په دغه خاطر) دهغو دبارخوګانو بې عزتی مه کوه. نو دهغه مَعشُوق(هلك) یا مَعشُوقې(انجلی) په باره کی دغه فکر وکه او په خپل باره کی هم دغه فکر وکه چی یوه ورځ به زموږ په قَبر کی څه حال وی، سترګی به چِنجیان ځغله وی، بارخوګان به چِنجیان خوری یو یو وریښته به چِنجئی وړی، معشوق یا دمعشوقې دټوله بدن اعضاوی به تاش په تاش سی، دا زه دبې پرده ښځو په باره کی وایم چی ددوی په قصه کی مه کیږی، انشاء الله تعالیٰ پدې مراقبې(فکر) سره به ځان دحرام ځای څخه دساتلو دپاره په زړه کی قوت پیداسی، زه دحلال ځای څخه نه منع کوم، بې شکه دحلالی مائینې په ښه محبت سره حق ورادا که، بس دحرام څخه ځان وساته، زما شعر دی

جب نہیں دی مجھے حلال کی مے
کیوں پیوں چھپ کے میں حرام کی مے

ترجمہ: چی خدای تعالیٰ ماته حلال دچښولو دپاره نه دی راکړی نو زه په پټه ولی دحرام دا وچښم.

دچاچی ودونه نه دی سوی یا دهغو ښځی ناجوړه دی یا سپنسری دی نو هغوی دی د دُوری هوری په کتلو سره نظر نه خرابوی، نو اول نمبر علاج څه دی پنځه تسبیح دلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ووایه، په مابین مابین کی محمد رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم

په ويلو سره كلمه پوره كه. انشاءالله ددې په بركت سره به زړه دغيرالله څخه پاك سى او دالله تعالىٰ دمحبت څخه به ډك سى. دوهم نمبر په خپله باره كى هم فكر وكه چى يوه ورځ قبرته ځم او هغه معشوق(هلك) يا معشوقه(انجلى) هم قبرته ځى، ددواړو بدنونه خراب سول، خاورى سول، اُوس قبر خلاص كه د دواړو دخاورو څخه پوښتنه وكړه، دعاشق صاحب دخاورو څخه هم او دمعشوق صاحب دخاورو څخه هم چى اې خاورو ستاسى هغه ټوله محبتونه څه سول، ستاسى هغه دګناوو اعضاوى څه سوې، تاسى ددنيا څخه لعنت يوړى

نیکواں رفتند و سنت ها بماند
و از لئیما ظلم و لعنت ها بماند

نيك خلګ ددنيا څخه ولاړه او دهغو دسنتو او طريقو ذكر پاته دى او بد خلګ او نالائقى ښځى ولاړې او دهغو دګناوو او بدكارى ذكر پاته دى او پر هغو باندى لعنت اُورى. وګورى دفلمو دخلګو څه حال دى، دغه لڅى ښځى چى ګرځى ځونه خلګو ته دبدنظرى دعوت وركوى دغه ټوله لَعنتونه به پر دوى باندى هم اُورى، ځونه خلګ چى ودوى ته په بد نظر وګورى نو دغه ګناه به ددوى پر سر هم لويږى كوم چى بې پرده ګرځى.

دعشقِ مجازى څخه دنجات دپاره دريم نمبر علاج دغه دى چى دغه فكر وكه چى دقيامت ورځ ده او الله تعالىٰ پوښتنه راڅخه كوى چى تا خپله ځوانى چيرى ضايع كړل؟ ستركى دى چيرى استعمال كړې؟ تاته دغه ستركى ستا مور و پلار دركړى وې اوكه دمور په نس كى ما ستا ستركى درجوړى كړى وې اود ديد روښنائى مى پكښى ايښې وه. ستا دغه شونډان به هم دقيامت په ورځ خبرى وكى، دالله تعالىٰ ارشاد دى

﴿اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾

(سورة يٰس، آية ٦٥)

دقیامت په ورځ به الله تعالی پر ژبه باندی مُهر(بَندیز) ولګوی او لاس و پښې به خبری کوی او څه به وائی؟ واوری مولانا رومی رحمة الله علیه ددې نقشه بیان کړې ده، فرمائی

دست گوید من چنیں دُزدیده ام

لب بگوید من چنیں بوسیده ام

لاس به وائی چی اې الله موږ دخلګو جیبونه پریکوله، غلا موکوله، شونډان به وائی چی موږ دنامحرمه ښځو او دښائسته هلکوانو مُچی اخستې. اُوس ولاړسه د تُرکیه په ښار قُونیه کی دمولانا رومی وقَبر ته او ومولانا رومی ته ووایه چی تا هم دحُسن بې عزتی وکړه

لب بگوید من چنیں بوسیده ام

شنډان به وائی چی اې خدایه دغه بَدبخت په دغه شنډانو دنامحرمه ښځو او ښائسته هلکوانو مُچی اخستې، هغه وخت دقیامت په ورځ به معلومه سی چی ستا دشنډانو څونه احترام کیږی، کله چی ستا څخه پوښتنه وسی چی ته نه وې خبر چی

جو کرتا ہے تو چھپ کے اہلِ جہاں سے

کوئی دیکھتا ہے تجھے آسماں سے

ترجمہ: څه چی ته کوې په پټه له جهانه څوك درته ګوری له آسمانه.

دبدفعلی څخه دحفاظت یوازنی لاره دښائستو څخه لیریوالی دی

نو درې نُخسې وسوې او څلورمه نُخسه دغه ده چی دحُسن دخاوندانو څخه لیری اوسه که هلك وی که انجلی ځکه چی سعدی شیرازی صاحب فرمائی که خَتهی ډیری وی نو پیِل هم ښوه ایږی. الله تعالی ﴿لاَ تَفْعَلُوْا الزِّنَا﴾ زنا مه کوی نه دی فرمایلی بلکه څه ئې فرمایلی دی؟ ﴿لاَ تَقْرَبُوْا الزِّنَا﴾ زنا ته ورنژدې کیږی لامه، ځکه چی د انسان فطرت دی که دحُسن وخاوندانو ته نژدې اوسیدی نو به یوه ورځ په

بدفعلی کی هم مُبتلا سی. اُوس که څوك یوې انجلی ته په دفتر کی دځانه سره کار ورکی نو به دهغې دعشق څخه محفوظه سی؟

یاد وساتی دحسن څخه ځان لیری وساتی هلك وی که انجلی دهغه ځای څخه لیری ولاړسه کنې ورسره اخته به سې، په وارو وارو درته وایم چی کوم خلګ دښځو او هلکوانو سره نژدې اوسیدل آخر په ګناه کی ونیول سول او دډیرو عزت ئې هم ختم سو. په دې خاطر پر خپل طاقت باندی ناز مه کوی چی موږ په ګناه کی نسو اخته کیدای، چی اللّٰه تعالیٰ موږ کمزوره بللی یو

﴿تِلْکَ حُدُوْدُاللّٰہِ فَلاَ تَقْرَبُوْھَا﴾

(سورة بقرة آية۱۸۷)

داللّٰه تعالیٰ مقرره سوی حَـد ته نژدې مه اوسیږه ځکه چی ته کمزوره یې. لهٰذا څوك چی پهلوانی ښکاره کوی شیطان دهغه مخ ورتورکړی، کیدای سی چی په یوه ورځ کی ئې نه کی ورسره اخته، په شپږ میاشتی کیداسی، په قراره قراره دهغه دمحبت زهر په بدن ننوزی اوبیا به دداغه انجلی یا هلك سره په بدفعلی کی ونیول سی، په دې خاطر دحسن دخاوندانو څخه لیری اوسه، دښځو څخه لیری اوسه، دلغړزنو هلکوانو څخه لیری اوسه بلکه دهغو کوچنی کوچنی ږیری درلودنکی هلکوانو څخه هم لیری اوسه چی په کتلو سره شوق ورته کیږی.

د اولیاوو دصُحبت نعمت

او زما دوستانو پنځمه نُحسه ډیره خوندوره ده، په دې کی هیڅ کار نسته او ډیر لُطف هم لری، هغه څه ده؟ دخدای دکوم دوست سره چی ته محبت لرې، زړه دی ورسره لګیږی، دهغه په صحبت کی ناسته ولاړه لرې دهغه سره اصلاحی تعلق جوړکه(یعنی په هغه باندی خپله اصلاح شروع که) تاسی وواياست دچاچی دیو دینی پـیر سره محبت وی نوهغه پـیرته کتل خوند کوی که یا؟ دونه خوند کوی چی

مفتي محمد حَسَن اَمـرتسَری رحمة اللّٰه علیه دجامعه اشرفیه لاهور مدرسې بنیاد ایښونکی، ډیر لوی حافظ، عالم او مفتی و خپل پیرحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه ته فرمائی چی اې زما شیخه! که زه تاته یو نظر وکورم او ددې وروسته زرکاله په سجده کی دشُکر دپاره سر کښیږدم بیاهم داللّٰه تعالیٰ ددغه نعمت(ستا ددید) حق نسم اداکولای، نو دغه پنځم نمبر چی دی یعنی داولیاوو صُحبت دغه ددین روح ده، دین دداغه څخه مخته تللی دی، اکبر اِلٰـه آبادی وائی

نہ کتابوں سے نہ وعظوں سے نہ زر سے پیدا
دین ہوتا ہے بزرگوں کی نظر سے پیدا

ترجمہ: دین(یعنی دعمل کولو طاقت) نه په کتابو سره پیداکیږی، نه په بیانو سره پیداکیږی، بلکه دین دبزرګانو په نظر سره پیدا کیږی(یعنی دهغو په صحبت کی انسان ته پر دین عمل کول آسانه سی).

واوری اسلام پر مخ تګ دنبوت دنظر څخه کړی دی(یعنی دایمان په حال کی که پرچا باندی درسول اللّٰهﷺ نظر ومُبنتی یا دهغه نظر پر علیه السلام باندی ومُبنتی نو هغه صحابی سو)، درسول اللّٰهﷺ دنظر څخه دین پر مخ تګ کړی دی، دهغه وروسته د اصحابو دنظر څخه دین پر مخ تګ کړی دی، دهغو وروسته دتَـابَـعینو دنظر څخه دین پر مخ تګ کړی دی، دهغو وروسته تر ننه پوری د اولیاوو دنظر څخه دین پر مخ تګ کوی او تر قیامته پوری به دغه سلسله شروع وی، بس مضمون ختم سو.

پاکستان اسلامی سلطنت دی

د اګست دمیاشتی پر څوارلسم تاریخ دلته یو پروګرام جوړسوی وو ځکه چی نن سبا خلګ نظام نه پیژنی پروګرام پیژنی په دې خاطر په مجبوری کی انګریزی وایم. لهٰذا تاسی ټولو ته صلاح درکوم چی زما د څوارلسم(۱٤) اګست پـیته حاصل کی، په

هغه کی ما په دلیل سره جواب ورکړی دی چی پاکستان اسلامی سلطنت دی. حکیمُ الامت مجددُالمِلت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة اللّٰه علیه فرمائی کوم چی دمفتی اَعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب غوندی عُلماوو پیردی چی اسلامی سلطنت هغه ته وائی چی دهغه ځای مشر یعنی دمَلك بادشاه مسلمان وی او اسلامی قانون دعَملی کولو قدرت ولری، بیا هغه دخپل بشری او ایمانی کمزوری څخه دیو لوی مملکت څخه وبیریږی یا دخپل ملك دحالاتو څخه وبیریږی او اسلامی احکام نه کړی نافذ نو هغه اسلامی سلطنت دی ځکه چی هغه خپل قدرت استعمال نه کړی نو هغه مسلمان بادشاه دقدرت دنه استعمالولو خو به مجرم وی لاکن هغه اسلامی مملکت دی چیری چی بادشاه د اسلامی قانون دعملی کولو قدرت ولری.

ددې څخه معلوم سول چی هغه ټول مملکتونه دکوم چی بادشاهان مسلمانان دی هغه ټوله اسلامی مملکتونه دی. لهٰذا پاکستان اسلامی مملکت دی او زموږ دغه وزیران قدرت لری که یا؟ ددغه پاکستان د یو اینچ مځکی دپاره ځان قربانول شهادت دی. پاکستان دبزرګانو او داولیاوو په ژړا او په دُعاوو جوړسوی دی، هغه عُلماء او اولیاء دخدای زما ومخته دی چاچی ددغه ملك دجوړیدو دپاره کوښښونه کړیدی، په هغوکی زما پیر او شیخ شاه عبدالغنی صاحب رحمة اللّٰه علیه هم دی. لهٰذا اللّٰه تعالیٰ دی ددغه سلطنت حفاظت وکی او موږ دی دهندوانو دغلامی څخه وساتی. بعضی بې عقلان وائی تردې خو ښه دی چی دغه وطن هندوان واخلی **لاَحَوْلَ وَلاَقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ** دغه خونه لو بده جمله ده، خدای دی دتوبې توفیق ورکړی او خدای دې وبخښی کنې دغه ډیره خطرناکه جمله ده.

د صله رحمی حق داره څوك دی؟

یوه خبره بله درته کوم چی د صله رحمی هم ډیر خیال وساتی، نن سبا په دې معامله کی خلګ ډیره لاپروایی کوی

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَاءَ لُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ﴾

(سورة نسآء، آیة۱)

اَرْحَام د رحم ځخه دی، عام خلګ دخپل مور او پلار سره ښه کول صله رحمی بولی لاکن علامه آلوسی السید محمود بغدادی په تفسیر روحُ المَعَانی کی فرمائی چی دواده وروسته دمائینې مور او پلار هم دصله رحمی یعنی دوینو دخپلوانو برابر سی یعنی ځرنګه چی دخپل مور او پلار ادب او احترام لازم دی او ځرنګه چی خپل مور وپلار او انا و نیکه حق لری هم دغه رنګه دمائینې ځخه چی کومه خپلوی جوړیږی دهغو حق هم هغسی دی یعنی هغه هم په صله رحمی کی داخل دی، اوس دتفسیر روحُ المَعَانی عربی عبارت درته وړاندی کوم

﴿اَلْمُرَادُ بِالْاَرْحَامِ الْاَقْرِبَاءُ مِنْ جِهَةِ النَّسَبِ وَمِنْ جِهَةِ النِّسَآءِ﴾

یعنی هغه خپلوان چی دخاندان دنسب ځخه دی او کومه خپلوی چی دمائینې ځخه جوړیږی هغه (دواړه) په صله رحمی کی شامل دی.(روح المعانی ج ٤ص١٨٥)

ژبه په قبضه کی وساتی

دوهمه خبره دغه ده چی خپلی خبری سمی کړی

﴿وَقُوْلُوْا قَوْلاً سَدِیْدًا﴾(سورة الاحزاب،آیة۷۰)

یعنی د قَـهر یوه خبره تر خولې مه راباسی کنې بیا به ډیره پښیمانی کوی او دهغې خبری علاج هم بیا نه کیږی. لهٰذا کومه خبره چی کوې نو داسی ئې وکه چی په هغه سره زړونه نژدې سی، داسی خبره مه کوه چی په هغه زړونه مات سی.

نکاح کوم وخت سنت ده

او آخری خبره دغه ده چی نکاح کول درسول اللّٰهﷺ سنت دی، علیه السلام وفرمایل ځوك چی نکاح ونه کړی ﴿فَلَیْسَ مِنِّیْ﴾دهغه سره زما هیڅ تعلق نسته، ددې

څخه معنٰی هغه خلک دی چی قدرت لری بیاهم نکاح ونه کړی او که څوك معذوره دی، مجبوره دی، مائینې ته ډوډی او کالی نسی ورکولای، کور نسی ورکولای یا هغه ته څوك انجلی نه ورکوی یا ډیر سپـنږیری سوی دی چی هر چیری ورسی نوهلته سپـنسرې ورکوی او دی دغه وائی چی زما دداسی ښځی سره زړه نه لګیږی نوپه داسی حال کی نکاح کول سنت نه پاته کیږی.

ډیر اولیاء داسی هم تیرسوی دی چاچی ودونه نه دی کړی لکه حضرت بِشر حافی، دمسلم شریف شرح لیکونکی شیخ مُحی الدین ابو ذکریا نَـووی او علامه تَـفتازانی رحمة اللّٰه علیهم وغیره. لهٰذا څوك حقیر هم مه بوله یعنی چاچی واده نه وی کړی نو دغه مه وایه چی دیٔ دسنت پریښونکی دی، ډیر اولیاء هم داسی معذوره سوی دی چاچی دمجبوری څخه واده نه دی کړی، نو دغه ئې وبوله چی دیٔ به هم یو څه مجبوری لری. ښه اوس نو دعا کوم چی څه وویل سوه او څه واوریدل سول اللّٰه تعالٰی دې قبول کړی او دعمل کولو توفیق دی اللّٰه تعالٰی راپه نصیب کړی، آمین

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

در بیانِ مَذمّت حُبِّ دُنیا

(مأخوذ از مثنوی اختر)

رُخ نیار دھرکہ او مجنونِ دوست　　گرچہ صدھا ملکِ گوناگونِ اوست

ملک را بگذار و مالک را بگیر　　تاکہ صدھا ملک یابی اے فقیر

من نگویم زیں سخن راھب شوی　　بلکہ گویم سُوئے حق راغب شوی

ملک گرداری تو بَھرِ دوست دار　　جذبۂ انفاق بَھرِ دوست دار

در لحد آں دم کہ مرقد ساختی　　اَز جھانِ خویش پس چہ یافتی

قول ایں از مولوی رومی بگیر　　ھمچو کشتی آب را اندر مگیر

گرچہ کشتی اندرونِ آب ھا　　لیک باشد بر برونِ آب ھا

ھمچنیں می رَد دریں دُنیائے دوں　　جسم را نھہ اندروں دِل را بروں